**Barn som upplever våld i en nära relation - Pashto**

# هغه ماشومان چه په نژدی اړیکو کی یی تاوتریخوالي سره مخامخ وی

د تاوتریخوالي سره مخامخ کیدل په دی مانا وی:

- د تاوتریخوالي سره مخامخ شوی وی (له وهلو نه نیولی تر تیله کولو، جنسی خشونت، آزار ورکول او د احساساتی ردولو ګواښ کول)
- د تاوتریخوالي لیدل یا اوریدل
- د تاوتریخوالي نښی لیدل (د مثال په توګه د وار نښه، مات شیان، ډار)
- د کور فضا احساسول

د ماشومانو ډیره برخه په دی پوهیږی چه د ده په کورنی کی څه پیښیږی، که څه هم خپلوان یی په دی باور نه لری. کله چه کوم خپلوان یی ښه نه وی، دوی په دی ژر پوهیږی، مګر دوی د خپلو احساساتو په هکله تل چا ته څه نه وایی. کله چه یو ماشوم ښه نه وی یا د نا آرامی احساس کوی نو دا کیدای شی د دوی د لوبو یا د رویی نه ښکاره شی.

**د نا آرامی راپور ورکړه**

آیا دا ګمان کوی چه د یوه ماشوم سره بده رویه کیږی؟ د نا آرامی یو راپور د ټولنیزو خدماتو اداری socialtjänsten ته ورکړه. د ټولنیزو خدماتو اداره د دی موضوع په هکله یوه څیړنه کوی، د مرستی خبری کوی او لازم اقدامونه ترسره کوی.

ځنی مسلکی کارمندان د قانون په اساس مکلف دی چه د نا آرامی راپور ورکړی. دا د هغه کسانو سره اړه لری چه د مثال په توګه په مکتب، روغتیایی چارو یا پولیس کی کار کوی.

**د هغه ماشومانو لپاره چه تاوتریخوالي یی ازمویلی وی مرسته او ملاتړ**

د ټولنیزو خذمتونو په اداره کی ماشومان او د هغه خپلوان کولای شی مرستی په لاس راوړی. د مثال په توګه:

- د مرستی خبری کول
- د ماشومانو لپاره د فعالیت ګروپ
- د ماشومانو د نفعی لپاره د پلار او مور د رول په اړه مرسته
- د تماس سړی یا د تماس کورنی
- د اوضاع د بدیدو په صورت کی نور اقدامات، د مثال په توګه د نوکری کور

د عاجل خطر په صورت کی تل ۱۱۲ ته زنګ وهه.

**تماس ونیسه:**

- **فعالیت:** Socialtjänst Vårgårda
- **د تیلفون شمیره:** Telefon växel 0322-600 617
- **انترنیتی پانه:** www.vargarda.se
- **د لیدنی کتنی پته:** Kungsgatan 45